**مطبوعاتي اعلامیه**

**د پاکستان رژیم له چین څخه خپل ملاتړ په داسې حال کې اعلان کړ چې دې هېواد د اویغور له مسلمانانو سره په ښکاره توګه جګړه روانه کړې ده!**



**(ژباړه)**

د پاکستان حکام له هغو کسانو سره چې په ښکاره مسلمانان ځوروي ملګرتیا غوره کړې ده او په چوپتیا سره له هغوی ملاتړ کوي او د هغوی بدې په اقتصادي معاملاتو پټوي. سربېره پر دې اوس د پاکستان حاکمانو یوه بله پستي هم غوره کړې او هغه له چین څخه د ملاتړ اعلان دی په داسې حال کې چې دا هېواد د ختیځ ترکستان له مسلمانانو سره جګړه په مخ بیایي. د ۲۰۱۸ د ډسمبر په ۳۰مه له الجزیرې سره په یوه مرکه کې د پاکستان له ولسمشر عارف علوي څخه د اویغور له مسلمانانو سره د بیجېنګ له وحشیانه کړنو پوښتنه وشوه، هغه په بشپړ ډاډ سره وویل چې د خپلواک سره سم به عکس العمل ښکاره کړي.

د پاکستان ولسمشر له چین څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، په داسې حال کې چې دې هېواد سلګونه مسلمانان په جبري توګه په کمپونو کې بندي کړي دي، مسلمانان په بند کې ساتي او په خوله کې یې سمنت اچوي تر هغه چې مړه شي. هغه چین ته ډاډ ورکوي په داسې حال کې چې دا هېواد د مسلمانو ښځو له حمل اخیستلو او اولاد زېږولو څخه مخنیوی کوي او د مسلمانو نارینه و جنسي غدې پرې کوي او له هغه رژیم څخه ملاتړ کیږي چې د هر مسلمان په کور کې یو چینایي جاسوس ګوماري بې له دې چې د جنسیتونو د بېلولو قانون ته پاملرنه وکړي چې د اسلام یو اساسي حکم دی او همداسې ورځ په ورځ له چینایي ظالم رژیم څخه دا ملاتړ زیاتیږي بې له دې چې کومه پښیماني رامنځته شي.

له دې حکامو څخه همدا تمه کېدای شي چې په غير ما انزل الله باندې حکم وکړي. دا حکام يوازې په دې کې بيړه لري چې له هغو کسانو سره خپلې اړيکې زياتې او دوستانه کړي چې له مسلمانانو سره يې په ښکاره توګه دښمني پيل کړې، که د چين په ختيځ کې وي او يا د امريکا او روسيې په لوېديځ کې، هغوی له ظالمانو څخه ترون کوي، په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمْ اللَّهُ عَنْ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ﴾**

[ممتحنه: 9]

*ژباړه: بېشکه الله تاسو يواځې له هغو کسانو منع کوي چې له تاسو سره يې په دين کې جنګ کړی دی او تاسو يې له خپلو کورونو نه ايستلي يئ او ستاسو په ايستلو کې يې يو له بل سره مدد کړی دی، دا چې تاسو له دوی سره دوستي وکړئ او هر هغه څوک چې له دوی سره دوستي وکړي، نو هم دغه کسان ظالمان دي*

دغو حکامو د چين مظلوم مسلمانان همداسې په ظلم کې پرېښي دي، په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ﴾**

[الانفال: 72]

***ژباړه:*** *او که چېرې دوی له تاسو نه په دين کې مرسته وغواړي، نو پر تاسو باندې مرسته کول لازم دي*

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د داسې حاکمانو شتون چې له هغو خلکو څخه خپل سياسي، اقتصادي او نظامي ملاتړ اعلانوي چې زموږ دين ته ارزښت نه ورکوي او زموږ په مقدساتو تېری کوي، له هغوی بايد ځان لرې کړو، څرنګه چې هغوی له موږ څخه لرې دي او د نبوت په منهج د خلافت د بيا راوستلو لپاره هڅې وکړو، هغه مهال به داسې حاکمان به ولرو چې د اسلامي ځمکو په يوځای کولو سره به موږ پياوړي کړي، نه دا چې له دښمنانو سره په يو ځای کېدو سره موږ کمزوري کړي. الله سبحانه و تعالی فرمايلي دي:

**﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾**

[نساء: 139]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې له مومنانو نه پرته کافران دوستان نيسي، ايا دوی د هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ نو بېشکه ټول عزت له الله سره دی*

**د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر – ولايه پاکستان**

**د صدور شمېره: 1440 / 20**

27 ربیع‌الثانی 1440هـ.ق

۲۰۱۹ د جنوري دریمه نیټه